safar

# پیسې او شتمني

## د اخیستلو څخه په ورکولو کې برکتونه ډېر دي

### د پیل ټکی

- ستاسو تېر وخت او پالنې څنګه د پیسو په اړه ستاسو لید او د هغو د کارولو طریقې ته شکل ورکړی دی؟
- ایا فکر کوئ چې پیسې کومه اړیکه ستاسو د ایمان او د خدای سره لري؟ ولې؟

### اصلي مفکوره (لومړۍ برخه)

ایا پوهېږئ چې مسیح د اسمان او دوزخ په پرتله، زیات د پیسو او شتمنۍ په هکله خبرې کړې دي؟

هغه د پیسو په هکله ویلي دي.
هغه یو شتمن ځوان ته د پیسو په هکله ننګونه وکړه. کله چې زکا توبه وکړه او ویې ویل: «که له چا مې کوم شی په ناحقه اخیستی وي، څلور برابره یې د هغه په بدل کې هغه ته بېرته ورکوم.» مسیح وویل:«نن دې کورته ژغورنه راغلې ده» (لوقا ۱۹: ۸-۹).

ولې مسیح د پیسو په هکله ډېرې خبرې وکړې؟ په دې دلیل چې هغه نه غواړي چې په دې نړۍ کې پیسې زمونږ د ژوند کنترول په لاس کې واخلي.

### کلمه وپلټئ
### (۱ برخه)

متی ۶:۱۹-۲۱ ولولئ.

د دې ایتونو د لوستلو نه وروسته دې پوښتنو ته ځواب وواییٔ:

- ایا مسیح د دې مخالف دی چې مونږ شتمن شو؟
- څه دلیل دی چې عیسی په آسمان تمرکز کوي؟
- فکر کوئ مسیح ولې وویل: «څکه هر ځای کې چې ستا خزانه ده، ستا زړه به هم هلته وي» د دې په ځای چې وواییٔ: «څکه هر ځای چې ستا زړه دی ستا خزانه به هم هلته وې؟»

### بحث او خبرې

تصور وکړئ چې تاسو په داسې شرایطو کې یئ: تاسو هیله لرئ چې نوي ښار ته کډه وکړئ او خپل پاتې عمر هلته تېر کړئ. تاسو اوس مهال په کار بوخت یئ او تر هغه وخته پورې چې ځای په ځای کېږئ په یو موقتي ځای کې لکه هوټل او یا یو کوچني اپارتمان کې ژوند کوئ.

تاسو په کومه اندازه خپلې پیسې د ښیا رغونې، فرنیچر او د هوټل د خونې او یا د کوچني اپارتمان د لوازمو اخیستلو دپاره مصرفوئ؟ په کومه اندازه د دې پیسو به تاسو د خپل راتلونکي ژوند دپاره په نوي ښار کې پس انداز کړئ؟

### اصلي مفکوره (دوهمه برخه)

که خپلې ټولې پیسې په دې نړۍ کې یوازې د شخصي شتمنۍ دپاره ولګوو، د هغه سړي په شان به شو چې د هوټل د خونې د ښیا رغونې او فرنیچر دپاره چې هغه به په نژدې راتلونکي کې ژر پرېږدي، لګوي.

د دې په ځای، مسیح له مونږ نه غواړي چې خپل تمرکز په ابدیت وکړو. د دې کار د کولو دپاره یوه اصلي لاره دا ده چې

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

بخښونکی اوسو او د خدای د پاچاهۍ په لاره کې د خپلو پیسو پانګونه وکړو. مسیح له مونږ نه غواړي چې په خپل ژوند کې په دې نړۍ کې په ښتن باندې باور وکړو او بخښونکي اوسو.

د اخستلو څخه په ورکولو کې برکتونه ډېر دي.

په همدې ډول مسیح په دې پوهېږي چې د بخښنې په لاره کې ډېر برکتونه موندل کیږي. په حقیقت کې هغه وایي: «د اخستلو څخه په ورکولو کې برکتونه ډېر دي» (د رسولانو عملونه ۲۰: ۳۵)

همدا رنګه هغه وایي: «نورو ته څه شی ورکړئ ، نو تاسو ته به هم درکړل شي. تاسو ته به په ډکې پیمانې، په زور ځای شوې او تر خولې پورې ډکه ستاسو په لمن کې به واچول شي. ځکه په هره پیمانه چې تاسو یې نورو ته ورکوئ، په هماغه پیمانه به تاسو ته هم درکول شي» (لوقا ۶: ۳۸).

## کلمه وپلټئ
## (دوهمه برخه)

لوقا ۲۱: ۱-۴ ولولئ.

- ولې مسیح د هغې کونډې د تاثیر لاندې راغی؟
- که مسیح لیدل چې څنګه تاسو خپلې پیسې کاروئ، تاسو ته به یې څه ویل؟
- فکر کوئ چې ولې د اخستلو څخه په ورکولو کې برکتونه ډېر دي؟

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

**څرنګه په اسمان کې ګنج ذخېره کړو او بخښونکي اوسو؟**
دا مسئله ډېره مهمه ده چې نورو ته خوښي ورکول یوازې امتیاز نه دی چې بډای خلک د هغه څخه برخمن دي. هر څوک پرته له دې چې څومره شتمن یا غریب وي، کولای شي بخښونکي اوسي.

ایا غواړئ د اسماني ګنج په ذخېره کولو پیل کړئ؟ ایا غواړئ خوښي، برکت او بخښنه تجربه کړئ؟ که غواړئ دا کارونه پیل کړئ، درې لاندې ګامونه به تاسو سره مرسته وکړي:

1. **اړینه نه ده چې شتمنئ ته صبر وکړئ.** په هغه څه فکر وکړئ، چې لرئ یې او هغه کولای شی وبخښئ.
2. **د میاشتنۍ ډالۍ په تړاو چې غواړئ ښتن ته یې ورکړئ، دعاوکړئ.** کولای شئ دا ډالۍ خپلې کلیسا ته ورکړئ.
3. **د هغو فرصتونو په لټه کې شئ چې حتی ډېر نورو ته وبخښئ.** پرته له پیسو، که نور شیان هم بخښلو ته لرئ؟ زمونږ د ژوند په دوران کې نورو ته د بخښلو دپاره، له اړتیاوو او فرصتونو سره مخامخ کیږو. مختلفې او ارزښمنې خدمتې پروژې شته چې د بخښلو له لارې کولای شو د هغوی څخه ملاتړ وکړو، لکه غریبانو ته خواړه ورکول او د هغو کسانو سره مرسته کول چې په رنځ او کړاو کې دي.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- دا ایتونه ولولئ او په هغو باندې غور وکړئ:
  - لوقا ۱۲: ۱۳-۲۱
  - متی ۲۵: ۳۱-۴۶
  - دوهم قرنتیان ۹: ۶-۱۵
- کله چې په خپل شاوخوا کې اړتیاوې ګورئ، په ګډه دعا وکړئ چې څنګه کولای شئ په هغو شرایطو کې مرسته وکړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved